وَ قَضٰی رَبُّکَ اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالۡوَالِدَیۡنِ اِحۡسَانًا (الاية)



# د مور احترام

## په (۱۵۰) طريقو

ژباړن: ابوالحسنات حفظه


حنفی شافعی
بسم اللہ الرحمٰن الرحیم
کفایت دینی کتب خانه
کفایت اللہ ابن صدیق
واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل
اس گروپ میں کتابیں اہل السنة والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔
کفایت اللہ ابن صدیق
easypaisa
+923052488551
+923247442395
حنبلی مالکی

## البدایه

ما پدي هکله ډیر سوچ وکړ د هغه چا په باره کې چه هغوی د مور او پلار سره ښه چلند کوي او نیکي ورسره کوي او هغوي ورڅخه راضي هم دي او دا مسئله سخته هم نده. د مور او پلار سره نیکي کول ډیر یو آسان کار دي. خو فقط دري صفتونو ته یکي ضرورت دي چي په هغي همیشه والي مهم دي . چه یو د هغي صفتونو نه پاک زړه او هوښیارتیا ،دویم چي مخ همیشه د خندا نه ډک وي ، او دریم صفت اخلاص دي . دا ټول هغه صفتونه دي چي د الله تعالي توفیق به درسره مل وي .

**زماورونو او ملګرو!!!**

- پدي کوچني کتاب کي ما خپل ټول فکرونه او نیوکي د هغه چا په اړوند راجمع کړیدي چه هغوي نیکي کوي د خپلو میندو سره. زه تاسي ته څه اسباب ددي وړاندي کوم چه سبب جوړ شي . د اقتدا د خلکو او آسان شي تلل پدي طریقه.

ستاسي مخي ته (١٥٠) طریقي د نیکي کولو د مور سره ذکرکوم چي عمل پري وکړی. او په خپل ژوند کي یي تطبیق کړی.

او تاسي خپل ورور د دعاء نه محروم نکړی.

(سلیمان الصقیر)

## د ژباړن خبري

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله واله وصحبه اجمعین:

پدي کتاب کي ډیر حقوق د مور ذکر شوي سره ددي چه پلار هم د احترام او قدر وړ دي خو چون مور تکالیف ډیر کوي شریعت مطهره هم ددي حقوق اړین ګرځولي . مونږ او تاسي په دي کتاب کي هغه څه مطالعه کوو . چي مور باید څنګه او په کومه طریقه د ځان څخه راضي کړو.

شائد پدي کتاب کي ځیني داسي اسباب د مور د خوشحالی ګورو چه مونږ ئي نشو عملي کولي نو دا څه ضرور نده په نورو اسبابو ئي عمل وکړو.

خلاصه د کتاب داده چي مور ډیر احترام او قدر لازمي او ضروري ذي او دا به ستا لپاره سبب د جنت د تللو کیدلی شی .

۱- په هر مناسب وخت کې دخپلې مور لپاره تحفې او ډالۍ برابرول.
مثلاً: داختر په ورځوکې د تحفو او ډاليو برابرول،د هغې دزامنو دودونو په حالت کې،کله چې يې زامن چيرته په امتحانونو کې کامیابیږي یاکله یي چې زامن دسفر نه راځي،کله چې ژمې داخليږي نو دژمې وسائل ورته برابرول،که دگرمۍ موسم راځې نو دوخت مناسب ضرورتونه ئي پوره کول.
۲- د مور لپاره یوه خزانه په کور کې ایښودل پدي خاطر چه مور د هغی نه خپل ضروريات پوره کړي.
که چیرته موردروپیو مدرک لري.یعنې د یوجانب نه ورته راځي،یا استاده ده،یا بله دنده لري. خو په هر لحاظ مور پدي خوشحاليږي چي د هغې لپاره خزانه وې.
۳- مناسب داده چه زامن د خپلې مور دعمر موافق ضرورتونه وپیژنې او دهغې مناسب اقدام وکړې.
٤- ډیر ویخ اوسیږه هغه خبرو ته چې ته يې خپلې مور ته کوې. داسې نه چې ستا مور ستا دتکلیف ورکولو او ضرروركولو خبرې وانه وري.
٥- کله چې په سفر باندې ځې نو کوشش وکړه چې اخرې مخه ښه دخپلې مور سره وکړې.او ډیره خوشحالې خپلې

مور زړه ته ورکړې او دعاګانې دمورنه وغواړه او که چیرته یو بل هیواد ته لاړې نو ضرور ورته ټیلفون وکړه.

٦- کله چې د سفر نه راشې نو اول ملاقات دخپلې مور سره وکړه او سلام پرې واچوه. د خپل ژوند ډاډ ورته ورکړه او د خپل تکلیفونو قیصې ورته مه کوه.

۷- په سفر کې کوشش وکړه چه روزانه یو ځل د خپلې مور سره ټیلفوني خبرې وکړی.او د خوشحالی خبرې ورسره وکړه.

۸- که چیرته ستا د ژوند کارونه او مشغولتیا کور ته نزدې وي نو روزانه یوځل کورته راشه. او د خپلې مور دیدن وکړه او د محبت اظهار ورسره وکړه.

۹- تر ټولو مهمه داده چه هغه کارونه وکړو چه په څه مور خوشحالیږي. چې یو د هغې نه مینه کول دي دده د بچو سره او په هغوی باندې نرمي کول دي او د هغوی سالم تربیت دې.

۱۰- که مور تاسره په یو هیواد کې نه اوسیږي نو کوشش وکړه چې روزانه ورسره یوځل تماس ونیسي. او د احوال نه یي ځان خبر کړي.

۱۱- کله چې د سفر نه راشي نو د خپلې مور سر او لاسونه ښکل کړه چې په دي عمل سره د هغې زړه ته غټه خوشحالي حاصلیږي.
زه همیشه د )دوکتور میسره طاهر( خبره یادوم هغی ویل :
ما دخپلې مور سر او لاسونه ښکل کړی نو زما زامنو زما سر او لاسونه ښکلوې.
یادونه: د مو او پلار سر او لاسونه ښکلول جواز لري. خو د سر ښکته کولو نه ځانونه ژغورل هم ضروري دي.
۱۲- خپلو زامنو ته د مور مرتبه او منصب وروپیژنه په ویلو او په عملي کړنو کې.
۱۳- ډیر حرص په دي باندې کوه چې مور څه غواړې هغه ورته ډیر زر حاضره وه. پدې باندې مور ډیره خوشحالیږي.
١٤- پخپل ژوند کې د ټولو کامیابیو نسبت اول لله تعالی کوه بیا ورپسي وروسته خپلې مور او پلار ته کوه. ځکه د اولاد ښه کامیابي په ژوند کې د مور او پلار په ښه تربیت دلالت کوي.
۱۵- کله چې د خپلې مور سره وعده وکړي د هغې هیڅکله مخالفت مه کوه او خپله هغه وعده پوره کوه چه کله د اسلامې شریعت مخالفت پکې نه وي

۱٦- هیڅکلن د خپلې مور سره جنګ او لانجه مه کوه. اګر که ته به د حق په جانب ولاړ ئي. بلکي په یوه نرمه طریقه خپلې مور ته خپل نظر وړاندي کړه،خو په هغه صورت کې چه کله ستا په نظر کې مصلحت وي او که مصلحت پکې نه وي نو بیا چپ کینه.

۱۷- د خلکو مخامخ د خپلې مور نظر کم مه ګڼه یا د خپلو ورونو په مخامخ که مور دي په مجلس کې حاضره وي او کنه. ځکه داسي کړنه مور ښه نه ګڼي.

۱۸- که بلفرض مور د دنیا په ځینو کارونو نه پوهیږي نو ددي په وجه ئي سپکه او حقیره مه ګڼه، او د هغي شان ته سپک مه ګوره. بلکي د مور د معلوماتو د زیاتولو هڅه وکړه په هغه څه چي نه پوهیږي. خو پداسي شکل چه ته ځان ناپوهه فرض کړي.

۱۹- د مور په مخامخ ډیره اوچته خندا مکوه او آواز ډیر مه پورته کوه. او د غوسي شکل مه جوړوه د هغې په مخامخ تندې دي مه تریوه وه بلکي د ټول هغه څه نه ځان وساته چه مور پري خفه کیږي.

۲۰- همیشه د خیر خبری خپلې مور ته کوه. او د ژوند د خوشحالیونه اول مور خبره وه.ددي سره به د مور زړه ته

نزدي شي. چې مور دا گمان وکړي چه زما ځوی اگر که عمر يې ډير دي خو ماته ځان محتاج گڼي.

۲۱- همیشه د مور صحت او روغوالي ته موتوجه اوسه او د هغې د مرض د معلومولو وسائل په کور کې وساته، لکه: د فشار آله، که د شکر مرض لري نو ددي آله هم ضروري ده چې کم او زيات پرې معلوم شي يا که بل مرض لري نو د هغې دواگاني همیشه په خپل کور کې لره

۲۲- په میاشت کې یوځل د مور ټول معاینات کوه پدي خاطر چه تاته ډاډ حاصل شي د هغې د صحت.

۲۳- د مور د عمر موافق ضروريات همیشه ياد لره. مثلاً: په ځوانۍ کي څه ته ضرورت لري. او چې کله بوډۍ شي نو بيا څه ته ضرورت لري يعني داسي خدمت يي وکړه لکه څرنگه ئي چه ستا په ماشومتوب کې کړي.

۲٤- کله که مریضه شي نو ځان ورسره درد مند کړه او روغه شي نو خوشحاله شه پري.هر وخت ئي دموه او په هغه درد مند ځاي ورته لاس گده او په قرآن او سنت کي چه کوم ددم الفاظ راغلي وي هغه پري لوله. نو دا ستا نيکي ده د مور سره.

۲۵- په حالت د مرض کې اطمنان ورکړه چې انشاء الله ته به جوړیږې او ښه حالت ته به لاړه شې او د خفگان خبرې او د غم قیصې ورته مکوه.
او تسلي ورته ورکړه چه په دې مرض سره گناهونه ختميږي او دا لږ تکلیف دې وروسته جوړیږي.
۲۶- د با تجربه ډاکټرانو سره رابطه وکړه د خپلې مور د تکلیف اړوند چې ددې مرض متخصصین وي یا خپله مور په یوه وسیله هغه ماهر ډاکټر ته یوسه چه پوره تشخیص او معائنه ئې وشي.
۲۷- نیکې ورسره وکړه او مور دې خپلو خپلوانو کره یوسه او د خپلو همزولو زنانو کورونو ته چکر ورکړه او لږ څه ورته واخله چه خپلو خپلوانو او ملگرو زنانو ته ئې ډالۍ کړي.
۲۸- خپلې مور ته یو خاص صندق واخله او په هغې کې ورته بسکټ یا ځینې نور خواږه شیان یا د لوبو وسائل یا ځینې نوري وړې وړې ډالۍ واخله چه دا ټول شیان ورسره په صندق کې ایښې وي او خپلو لمسو ته ئې ورکوي ددې سره هم مور ډیره خوشحالیږي.
۲۹- کله که دې مور چرته ځې او یا سفر کوي نو ښه اطمنان ورکړه او که په لاره روانه وي نو هم ټیلفون رابطه

ورسره کوه. او که خپل هدف ته ورسي نو بیا هم رابطه ورسره تکراري کوه.

۳۰- خپل خفگانونه او د درد قیصي ورته مکوه. ځکه ددي په سبب هغي ته خفگان رسیږي. هغي ته همیشه وایه چه انشاء الله کار اسان دي او الله تعالي به ټول مشکلات حل کړي.

۳۱- د خپلې ښځې سره د ځیني شخړو او مشکلاتو خبر خپلې مور ته مه ورکوه.
ځکه ته د هغې د زړه ټوټه ئې هغه په دي خبرو درد منده کیږي هغې ته همیشه د خوشحالۍ خبرې کوه.

۳۲- د خپلې مور په مخامخ د خپلې ښځې ډیر صفتونه مه کوه چې ماته دومره گرانه ده او هغې ماته دا شیان راوړې او ما ورته دا شیان راوړي. ځکه دا ستا مور ده او پدغه وخت کي یو قسم غیرت ورسره ملگري کیږي بلکي پوره مینه او احترام د هر چا نه زیات د خپلې مور کوه.

**(ژباړن):** افسوس د هغه چا په حال چه د خپلې ښځې په لمڅون او شیطانۍ باندي خپله مور وهي او کنځلې ورته کوې او هیڅ قسم مصرف پري نکوي.(الله دي ورته هدایت وکړي)

۳۳- د خپلې مور د قدر او احترام هره خبره خپلې ښځې ته مکوه.
بلکې د خپلې مور مرتبه اوچته ساته او پخپله په یو طرف کې مه واقع کیږه. بلکې د دواړو ترمنځ یوه علاقه ساته او د هر جانب حقوق پوره اداء کوه.
۳٤- د مور او پلار په ځینو اختلافاتو کې د ځان نه قاضې مه جوړه وه بلکې د دواړو ترمنځ د اخلاص او خیر خواهی خبرې کوه. ځکه دا دواړه تاته قابل د احترام دي.
۳۵- ډیر اعتراضات مه کوه په خپلې مور باندې د هغې په ظاهرې (لباس) باندې یا د هغې د ژوند په یوه تګلاره باندې یعنې د هغې عیوبونه هغې ته ډیر مه ښکاره کوه بلکې د یو ډیر حکیمانه شکل نه کار اخله.
۳٦- د خپلو ورونو سره علاقه قوي ساته اګر که ځینې مشکلات به موجود وي. ځکه مور د زامنو په اختلافاتو درد منده کیږي. او مور ته هیڅکلن درد مه رسوه.
۳۷- کله که د مور او پلار ترمنځ ځینې مشکلات موجود وي او ضرورت دې ته وي چه پلار ستا دویمه ښځه وکړي د مور په مخامخ پلار ته مه وایه چه پلاره ته دویمه ښځه وکړه چې دا مشکل حل شي پدې خبره هم مور خفه کیږي

همدا خبره پلار ته وکړه په داسي حال کي چي مور دي نه وي.

۳۸- د دین اهم مسائل او احکام مور ته ورزده کړه خو پداسي طریقه چه د حکمت او وعظ طریقه وي د قرآن او سنت د علماء درسونه ورباندي واوره چه عقیده یي جوړه شي او مسائل د دین هم زده کړي.

۳۹- د علماء د درسونو نه او محاضرونه او د وعظ د مجلسونو نه خپله مور مه بنده وه یعني په کومو ځایونو کي که علماء د قرآنکریم د تفسیر درس کوي یا د سیرة درس کوي یا عام یو وعظ وي نو خپله مور ورته یوسه چه دذي خیر نه برخمنه شي.

٤۰- تر ټولو ښه وخت احسان کول د مور او پلار سره د طاعاتو وخت دي خاصکر چه ته د مور او پلار سره په حج یا عمره کي یو ځای وي نو خپل ځان نه غلام جوړ کړه او د مور او پلار د خدمت نه خوند واخله.

٤۱- کله که ستا ورونه په څه خطا کي واقع شي. نو خپل ځان معذور وګڼه او ډیر کوشش وکړه په تربیت د خپلو ورونو کي او کومه خطا چي واقع شوي نو دا دشیطان د غلطو وسوسو د وجي نه ده او زردي چي دا هرڅه به الله

۴۲- د خپلوانو ځیني تیر وتني ستا د مور په هکله غتې مه ګڼه یا د زامنو او لمسو ځیني نیمګړتیاوي دا هرڅه کم ګڼه که ته دا لوي ګڼې نو مور بیا په نورو فکرونو کې داخلیږي او کوشش وکړه چې خپلوانو سره هغه محبت په خپل ځاي پاتې شي.

۴۳- خپلې مور ته به ناڅاپي د غم خبر نه ورکوي بلکې یو مقدمه به ورته کیږدي او بیا به ورته خبر ورکړې او دصبر غوره والي به ورته بیان کړي د غم او خفګان خبر به ورته په ټیلفون هم نه وایې. بلکې راځې به ورته او سلام به پرې واچوي او د مقدمې نه وروسته به یې خبره کړي.

۴۴- که د مور عمر هر څومره ډیر شي خو بیا هم د شفقت الفاظ خوښوي او د سختو الفاظو ویلو څخه ډډه کوي خپله مور د خوږو الفاظو نه هیڅکلن مه محرومه او د خوږو ترانو نه او ښه د مور لپاره د خپلو زامنو ښه اوازونه دي.

۴۵- که بلفرض مور د عمر نه ډیره شي او قادره نه وي د کور په کارونو باندي بیا هم د هغې سره داسي چلند وکړي لکه د یو ځواني مور سره کیږي یعني ګویا که دکور هر څه چې کولاي شي. خلاصه داده چه د مور سره ښه وکړی د ژوند په ټولو کړنو کې.

٤٦- خپله مور هیڅ وخت د هغه څه نه مه محرومه وه څه سره چې محبت کوي اګر که د عمر نه ډیره هم وي. که عطر غواړي یا نور د ښکلا وسائل غواړي یا نوي جامي وغیره دا هرڅه باید مور ته ورکول شي داسي ژوند د مور جوړ کړي لکه ژوند چې د سر نه کوي.

٤٧- کله ستا مورګاني ډیرې وي یعنـي پلار دي دري څلور ښځي کړي وي او د هغوی ترمنځ اختلافات وي. نو په هغې کي یو طرف مه انتخابوه او د ځان نه پکې حاکم مه جوړوه بلکي ته پکې د ځان نه یوښه خیر خواه جوړ کړه.

٤٨- د خپلې مور په شتون کې د بل چا د ښه تربیت ډیر صفتونه مه کوه یاته دا خواهش وکړي چه کاشکې زما هم د اسې تربیت شوي وائي. ځکه ددي خبرو سره د مور په زړه کي لږ خفګان راځي. چي ما لکه د ځوی صحیح تربیت ندي کړي. او دا داسي څرګندیږي لکه ته چي د مور په ژوند او تر بیت څه ملاحظه او نیوکي لري.

٤٩- د مور د خبرو کولو په حالت کي مکمل موتوجي شه او زړه او سترګي ورته خلاصي کړه. او ټول د وجود اندامونه دې خپلې مور خبرو ته موتوجې کړه. او د خپلې مور موسکا ته په خندا جواب ورکړه. او د خفګان په حالت کي ځان ورسره درد مند کړه.

۵۰- همیشه د مور سره موسکا وکړه او خوشطبعتي ورسره وکړه او د ځان نه سوري جوړ کړه د مور لپاره او په حالت د يوې غلطۍ دمور کي متوجې شه او د هر حالت سره مناسب چلند کوه.

۵۱- د نړۍ ښه حالت مور ته ووایه او خوږي قيصي- ورته وکړه. او همیشه هغه څه ورته ووایه چه هغه پري خوشحاليږي . ځکه مور د اولاد د خولې قيصي خوښوي.

۵۲- همیشه د مور صفت کوه په وجه د ښه تربيت د هغې. او شکر کوه د مور په سخاء باندي. او هيڅ وخت د مور يادونه مکوه مګر شکر يي ورسره اداء کړه.

۵۳- مور ته دي دا خبر ورکړه چه زما د زړه غټ ارمان دادي چه ته په سعادت کي ژوند وکړي. دا چي ته زما څخه راضي يي او مونږ ستا په وجه نيکبخته جوړ شو ځکه د مور غټ ارمان دا وي چي اولاد يي نيکبخته وي.

۵٤- که ستا مور او پلار ژوندي وي نو د هغوی سره هم ښه کوه او صدقه پري کوه. ځکه دا هم د والدينو سره يو قسم نيکي ده.او که مړه وي نو دعا ورته کوه او صدقه د هغوی لپاره کوه. چه دا هم د والدينو حق پرتا دي

۵۵- د مور لپاره يو څه وقف کړه چې نيکياني يې ډيرې شي او ثواب يې د مور پسې همداسې روان وي. لکه: د مور له خوا څخه د جومات جوړونه ، دارالايتام جوړول،د قرآنکريم د حفظ حلقه جوړول،د مسکينانو او غريبو سره کومک کول.

۵۶- ځينې هغه شيان چې د مور ارمان وي او تاته يې يادونه وکړي سمدستي لاړ شه او څه يې چې غوښتنه وي هغه ورته پوره کړه.د خپل وس برابر.

۵۷- خپله مور په هر څه مخکې کړه که کسبونه وي ، که ملګري وي ،که ښځه وي او که بچې وي.

۵۸- کله کله خپلې مور ته يو چکر ورکوه. چې خپل زامن او لمسيان ټول ورسره وي او خپل ورونه دي او په يو اجتماعي شکل سره سفر وکړی. چې ددي سره د مور په ژوند کې تازه ګي او خوشحالي راځي.

۵۹- د مور ډير عزت کوه د هغې په کور کې که ته ورځخه جدا استوګنه کوي نو قناعت ورته ورکړه چه موري مونږ کره شپه وکړه. او خپل زامن ورته وړاندي کړه. چه ګوره په دي به دي سترګي يښې شي.

۶۰- کله مور د ځان سره يو مشهور هوټل ته يوسه چې تاسره د شريک ژوندانه خوند واخلې. او هغه څوک هم د

ځان سره یوسه چې مور ورسره مینه کوي. او که نه تلله قناعت ورته ورکړه.

**(زباړن):** د شریعت د اصولو لحاظ به پکې وي او د بې سترې او اسراف نه به ځان ژغوري.

۶۱- ځینې هغه د تجارت ساحې چه امن پکې وي او ځینې غټ بازارونه چې د امن فضاء یې جوړه وي. کیدای شي دې ساحو ته ورتلل هم ددې ارمان وي نو که دا ارمان یې پوره کړې هم ښه ده.

۶۲- کله خپلې مور ته یوه ډالۍ تیاره کړه د نارینه وو چې ستا پلار ته یې ورکړي. دا هم د ټولو سره یو قسم احسان دي.

۶۳- د مور په شتون د پلار سره ښه چلند کوه او د پلار صفت کول دا هم هغه څه دي چه مور پرې فخر کوي.

۶۴- د مور صفت کول په دې بناء چې دکور اداره یې ښه جوړه کړې ده. او ښه چلند کوي د خپل خاوند سره پدې هم مور خوشحالیږي او پر ځان یې اعتماد زیاتیږي.

۶۵- غالباً لورگانې مور ته گرانې وي د زامنو نه نو ته د مور رازونه وساته او مور ته خپل رازونه ورکړه او د مور طبیعت وپیژنه . ته داسې چلند د مور سره کوه لکه ته د مور ملگرې وي. دلته خطاب لور ته دي.

٦٦- نارينه اولاد ته خپله مور په حالت د تکليف کې ډېره محتاجه وي. نو ته ځان قوي کړه په حالت د مشقت او تکليف د هغې کې او خپل قوت او ښه نظر ورته ورکړه.

٦٧- د خپلو خورگانو سره نرمه لهجه کول او د هغوی سره محبت کول او ښه چلند ورسره کول او هغوی ته وخت په وخت ډالۍ راوړل. پدي سره مور ډېره خوشحاليږي ځکه مور د هغه چا سره ډېره مينه کوي ځوک يي چه لورگانو سره ښه چلند کوي.

٦٨- بخل مه کوه په هغه مال باندي چه ستا مور يي مصرفوي په ځينو حالاتو کي بلکي ته فخر وکړه او خوشحاله شه او راضي شه په هغه څه باندي چي ستا مور يي کوي. چي کله د شريعت مطهره نه خلاف نه وي.

٦٩- خپلو زامنو ته تعليم ورکړه چي د مور سره نرمې کوي او زامنو ته ځيني شيان د ډالۍ په شکل ورکوه چي مور ته يي ورکړي.

٧٠- کله چي د مور عمر ډېر شي لاس نه يي ونيسه او بوټان ورته برابر کړه او د تللو د ځاي لاره ورته وښايه.

**(زباړن):** افسوس په دي چي ځيني خلک چه مور او پلار يي زاړه شي نو ټول زامن و نه ... بيل شي او په يوه زړه بيکاره کوټه کي مور او پلار واچوي.او هيڅ کومه توجه ... ته

نکوي. نه د هغوی د خوراک او څښاک غم کوي او نه د هغه د جامو او ځیني جاهلان په ډیر سپک نظر مور او پلار ته گوري. که په یو مجلس کې ئې پلار خپل نظر ورکړي نو زامن ورته وائي څه کورته لاړه شه او خبري مکوه هسي گډي وډي واي.

۷۱- کله کله هغه زامنو ته جائزه ورکوه. کوم زامن دي چې د مور سره ښه چلند کوي او دمور ډیر خدمت کوې او مور ددي څخه راضي وي دا خو د کور یو ښه تربیت دي او هم مور پري خوشحالیږي.

۷۲- د مور سره د کور د پاکوالې ، نظافت او ښکلا ډیر سوچ وي.ودریږه ورسره او د کور په ټولو کارونو کې ورسره مکمله همکاري وکړه.

۷۳- د مور د خوب کوټه باید په یو خاص شکل جوړه شي چه کوم مورخوښوي. او کوم وسائل ورته په کوم وخت کې ضرورت لري. دیخنی او گرمی او هغه ځایونه چه مور ئي خوښوي چه باید ښه جوړه شي. لکه: د کور عامه حجره.

۷٤- د مور د ملگرو سره هم نیکي کوه. یعني هغه زنانه چې ستا د مور سر د دوستانې رابطه ساتې. دهغوی سره هم نیکي کوه او کوشش کوه ددوي ترمنځ د یو ځاي کیدو.

۷۵- مور چه د څه سره مینه کوي هغه ورته تیول حاضر کړه او هر هغه څه د شریعت مخالف نه وي نو خفه کوه یې مه.

۷۶- هر هغه چې ته ورسره مینه لري. نو د هغې یوه نمونه خپلې مور ته وړاندي کړه. مثلاً: ته د شاعرۍ سره مینه لري نو مور ته دي یوه قصیده ولیکه او ورئي کړه ، که ته ښه لیکوال ئي نو د هغه په نوم یوه لنډه قیصه ولیکه او همدارنگه نور.

۷۷- کله چې په یو سورلۍ باندي سوریږي نو دتیولو خلکو نه مور مخکي کړه او په عامو حالاتو کي هم که د کور نه وځي او که داخلیږي هیڅکلن د مور نه مه مخکي کیږه مگر هغه وخت چې هغه ستا کومک ته ضرورت ولري.

۷۸- په ځینو تیولنو کي دا رواج دي چه مور دا خوښوي چه خپل نوم په ځینو لورگانو یا لمسیو باندي کیږدي. نو د مور نظر ته باید اعتبار ورکول شي. او مور باید په دي باب کي ازاده وگڼل شي . نو باید مور ددي انتخاب نه محرومه نشي.

۷۹- مور ته سخت کلمات او سخته لهجه مه استعمالوه. بلکي نرم کلمات او ښه الفاظ ورته غوره کړه.

۸۰- کله که ممکنه وه د زامنو او لمسو ترمنځ یوه مسابقه دائره ول چي څوک به ښه ډالۍ مور ته راوړي. پدي سره د

مور مرتبه واضحه کیږي او د اولاد په ذهن کي د مور حیثیت پیداکیږي.

۸۱- د دعاء د قبلیدو او قات وپیژنه او په هغي کي دي خاص دوعاګاني خپلي مور ته وکړه.

۸۲- د خلکو نظریاتو نه مخ واړوه او د ملګرو تعجب کي کیدل پریږده پدي هر څه باندي د مور حقوق وړاندي کړه. او همدا خبر یو ستر کار وګرځوه.

۸۳- د مور د ناستي لپاره باید یو خاص وخت وټاکل شي چه په هغه وخت کي نور کارونه وغیره نه وي او پوره ناسته ورسره وشي.

۸۴- ځواني جنکي باید دا کوشش وکړي چه د مور د ملګرو او د مور ترمنځ باید رابطه جوړه کړي یعني هغه زنانه چي ستاسي دمور سره رابطه ساتي نو تاسي یي مخالفت مه کوي بلکي دوامدار یي وساتي.

۸۵- پخپلې مور باندي فخر کول په هر وخت او هر ځاي کي.

۸۶- د مور سره د نیکو کولو او ددي د غوره والي قیصي- دې مور ته واوروه چې ددي سره هم هغه خوشحالیږي.

۸۷- د مور نه وغواړه چي تاته دعاء وکړي.او الله تعالې تاته د مور سره د نیکو کولو توفیق

۸۸- همیشه ورځخه وغواړه چي باید له ستا نه راضي وي او دعاء ورنه وغواړه پدي سره مور احساس کوي چي ځوي زما رضاء ته لیواله دي او خپل قیمت ورته څرګندیږي.

۸۹- همیشه د نورو ورونو سره مسابقه وکړه په نیکو کولو کې د مور سره چي هیڅ یو هم باید ستانه پدي مسابقه کي مخکي نه شي. او ته پکي اول نمبر راشي.

۹۰- د مور په څنګ کي خپل اواز مه پورته کوه. بلکي عاجزي ورته کوه او نرمي ورسره کوه او خدمت یي کوه.

۹۱- که د مور سره په یو ښار کي اوسیږي خو بیا هم د ستاسو ترمنځ مسافه شته. کوشش وکړه چي مور ته نږدي شي چي څومره ممکنه وي. چه پوره خدمت یې وکړي او د نیکو نه برخمن شي.

۹۲- کله که ته په یو ښار کي اوسیږي او مور دي په بل ښار کي اوسیږي نو کوشش وکړه چي په هر فرصت یي پوښتنه وکړي. او هیڅ وخت د هغې د پوښتني نه مه وروسته کیږه.ځکه مور ستا د وجي نه صبر کوي او ستا په راحت باندې چپه پاتې کیږي.

۹۳- کله که د مور نه لري اوسیدلي نو پوښتني ته په ورتللو کي ځانته مه ورځه بلکي ښځه او ټول بچي دي هم د ځان سره یوسه چي هغې ته ډیر اطمنان حاصل شي.

۹٤- ډیر کرتي به د مور نظر غوښتنه خواهش ستا د مزاج نه خلاف وي. خو ته یي مخالفت مه کوه ستا لپاره د مور رضاء او خوشحالي مهمه ده که په هره طریقه وي.

۹۵- ځان سره هر وخت حساب کوه! چي تا د مور سره څومره نیکي کړي او څومره دي کوتاهي کړي. او دا حساب هم د ځان سره وکړه چي ته دي ته محتاجه یي چه مرسته نیکي ورسره وکړي او هغه راضي کړي.

۹٦- او پدي یقین وکړه همیشه چي کله ته هم د مور او پلار سره نیکي کوي نو ستا اولادونه تاسره نیکي کوي او خدمت به دي کوي. نو خدمت د مور او پلار وکړه او ځان په دنیا او آخرت نیکبخته کړه.

۹۷- کله که د مور صحت ته یو مشکل ورسیږي نو څنګ کي ورسره پاتي شه. او پوره خدمت یي وکړه. او وخت په وخت یي پوښتنه وکړه او هیڅ کله ددي عمل نه مه وروسته کیږه.

۹۸- د خلکو په مخامخ مور ته ووایه چي ستا ښه لباس دي او ښه انتخاب دي کړي دي.پدي سره د مور زړه ته خوشحالي حاصلیږي.

۹۹- مور ته دي د سفر خوږي قیصي وکړه او هغه عکسونه ورته ښکاره کړه کوم دي چي په سفر کي ویستلي وي. او

کوم دي چې ملګرو سره ویستلي وي. خلاصه دا چه د سفر خوبیاني ورته بیان کړه چه خوشحاله شي.

(ژباړن: عکسونه ویستل حرام دي او دا کبیره ګناه ده. خو نن وخت کې دا ګناه عادت ګرځیدلي ده . د ضرورت په وخت کې ویستل جواز لري .لکه: د تذکرې لپاره، د پاسپورټ لپاره او په ځینو روپو هم د ځینو بادشاهانو عکسونه شته نو دا هم دضرورت په اندازه جواز لري.

۱۰۰- د مور دردونو او غمونو ته ودریږه او متوجي شه. او د مور ځیني نیوکي په قراره سینه واوره او دهغي غوښتنو ته مثبت جواب ووایه.

۱۰۱- په کارونو کې له مور څخه مشوره واخله او د هغې په نصیحت عمل وکړه.

۱۰۲- د مور سره په مجلس کې داسي کینه چي د هغي د شان او مقام سره مناسب وي.

۱۰۳- د خوراک په حالت کي د مور په شتون د آدب نه کار واخله. او د خوراک او څکاک نه ورته هغه څه وړاندي کړه چي ددې ورته اشتها کیږي.

۱۰٤- د مور نفس وپیژنه او د هغې مناسب چلند ورسره وکړه.او د مور میلان وپیژنه چي میلان یي څه ته دي او د هغې د غوښتلو نه زیات ورکړه.

۱۰۵- یوه جلې که واده شي نو د خاوند سره په ګډ ژوند کې ځان به تردې حده پورې نه مصروفوي چې خپله مور هیره کړي. د مور که هر څومره اولاد ډیر شي بیا هم ددې لور سره د هغې خاصه علاقه ده. یعنې لور به مور سره نیکی کوي او همیشه والي به پرې کوي.

۱۰۶- ځیني ضروري شیان چې مور ورته په ځینو حالاتو کې محتاجه وي خو په هغې نارینه اولاد نه پوهیږي نو پکار داده چې لورګاني د هغې نه غافله نه شي او مور ته خپل ضروري شیان پوره کړي.

۱۰۷- کله چې ته خپل کورته ځې او د خپلې ښځې لیدل کوي نو زامن دې داسې مه عادت کوه چې د کور سامان ګډوډ کړي او مور بیا د هغې په ترتیب کولو باندې ستړې شي. ځکه داسې کارونه مور پریشانه کوي.

۱۰۸- کله که ستا زامن د کور وسائل مات کړي یا ئې نقصاني کړي. نو کوشش وکړه چې ددې نقصان مخه ونیسې او د هغې په عوض کې ورته ښه سامان راوړي.

۱۰۹- د یو مریض نفسیات بدلیدلې شي په حالت د مرض د هغه کې. نو کله چه مور مریضه شي د هغه زر پوښتنه پکار ده په حالت د مرضتیا د هغې کې او باید کومک

ورسره وکړو پدي کار کي.او ماشومان بايد ډير شور ته پـري نږدو چي مور ته تکليف ورسوي.

۱۱۰- کله که ديوي مور لمسي ډير وي نو مناسب نده چي ټول په يوه ورځ د هغې پوښتني ته ورشی. ددي سره مـور تنگيږي او د خوراک انتظام ورته هم مشکل کيـږي او ټولـو سره په يوځل پوره محبت هم نشي کولاي بلکـي ښـه داده چه په ترتيب کي ورته راشی.

۱۱۱-کله چي کوم کور کي ماشومان ډيـر شي نـو دهغـوی ډيري چغی او شور ماشور مور تنگوي. نو مناسب داده چـه هغوی ټول په يو ځاي کي راجمع شي. د اسـتراحت لپـاره ياً لري چيرته چکـر لپـاره کـوم پـارک وغـيره تـه. ځکـه مـور نشي زغملاي د ماشومانو ډيري چغي او شور چي کلـه يـي عمر ډير شي.

۱۱۲- د مور له طرف يو څه وقف د زامنو لخوا چه مور ته ي خير رسيږي او د مور قرضونه اداء کول.

۱۱۳- هـر څـوي جداجـدا عادتونـه لـري ځينـي زامـن ډيـر کوشش کونکي وي او ځيني ښه نظر لرونکي وي او ځينـي نور ښه صفات لرونکـي وي بـس ښـه بـه هغـه وي چـي مـور سره ډيره ښيگڼه کوي او مور ورسره محبت کوي

۱۱٤- کله کله ورتللو سره د یو چا سره محبت زیاتیږي. او دا مثال په ټولنه کي همداسي دي. مګر د زامنو او مور ترمنځ باید داسي نه وي.
څکه مور د خپل اولاد په لیدو نه ستړي کیږي او نه یي د خپل اولاد سره محبت کمیږي.

۱۱٥- د مور مخي ته دي موجوده وسائل د روابطو کیږده چي خپلوان ورسره رابطه کوي او دا یي هم ورسره رابطه کوي یعني ټیلفون ورته واخله. چي مشکلات پري حل کړي.

**(ژباړن)**: د زنانه لپاره د شخصي- ټیلفون استعمال ډیر نقصانات لري اوپه ډیرو مفاسدو دا عمل بنا دي او د غلطو روابطو سبب کیدلي شي.دا کرښي چي او س زه ژباړم د مابنام لمانځه نه بعد په داخل د حرم شریف کي یم ډیري زنانه لیدل کیږي چه غټ سکرین واله موبائیلونه ورسره دي او شپه او ورځ پري عکسونه وباسي.
(والی الله المشتکی)

خلاصه داده که مور د چاسره خبري کول غواړي نو د خپل څوي د ټیلفون نه دي استفاده وکړي.

۱۱٦- کله که مور ټیلفون لري نو په رساله کې ورته ښائسته ښائسته خبري وروليږه.ددي سره د هغې محبت نور هم زياتيږي او د هغې زړه خوشحاله کيږي.

**(ژباړن)**: د ټیلفون استعمال جائز دي خو دضرورت په بناء د ښځینه طبقي سره مستقل ټیلفون ښه نه دي.

۱۱۷- کله که د مور عمر ډير زيات وي نو که ممکنه وه څه ډالۍ ورته واخستل شي. چې خپلو همزولو او ملګرو ته يې ډالۍ کړي. چه پدي سره د خلکو په زړونو کې ددی سره محبت پيدا کيږی او مور هم پدی خوشحاليږي.

۱۱۸- که اولاد د مور پوښتني ته ورځي. نو ضروري داده چې اول سلام واچوي او په دمه دمه خبري وکړي او د مور خبري هم ښه واوري. او د هغې د حال نه ځان مطمئن کړي. او خبري ورسره ختمي نه کړي تردي چې هغه يې ختمي کړي.

۱۱۹- د مور سره په مجلس کې پکار ده چې په ډير آدب ورسره خبري وکړو. اواز ډير پورته نکړو او هسې شور ځوږ نه کړو. او هغه څه یاد نه کړو چې مور پري خفه کيږي

۱۲۰- کله چې د سفر نه راشي نو د هغه هيواد يوه تحفه دي مور ته راوړه چه پري خوشحاله شي.

۱۲۱- هغه سیمو ته مور ته چکر ورکول په کوم ځای کي چي د ماشومتوب دوره تیره کړي ده.یا هغه ځای چي هلته یي د واده اولي ورځي تیري کړیدي. پدي چکر سره به د مور په ذهن کي د ځوانۍ یوه تفریح راشي.

(ژباړن): دا د لیکوال نظر دي دا په هر ځای کي نشي-تطبیق کیدلي.

۱۲۲- ورونو ته د نیکۍ درس ورکول پخپل منځ کې او د ښه علاقي د یوبل سره چه ددي سره مور هم خوشالیږي.

۱۲۳- کله که دي مور او پلار د یو بل جداء شي نو ته هغه څه مه بیانوه چه دائي بد ګڼي.

۱۲٤- کله که په کور کې ځیني مشګلات پیدا شي نو په ډیره خوږه عملي طریقه باندي د مشکلاتو د حل لپاره حرکت وکړه.

۱۲۵- که بالفرض یوه مور کونډه شي. یا جدا والي راشي ددوي ترمنځ او مور لاړه شي د یوبل چا سره واده وکړي نو بیا هم د مور سره احسان کوه او ډالۍ ور لیږه.

۱۲٦- که بالفرض مور جداء شوه او بل چاسره یي واده وکړو. نو ته پلار ته ښه مشوري ورکړه، او د پلار ښه نصیحت واخله.

۱۲۷- د هغې چا سره ټیلفوني رابطه ساته څوک چه ستا مور ته ډیر ګران وي او هغه هم پریږده چې رابطه وساتي ورسره.

۱۲۸- کله چې دي مور کمزوري شي نو ډیر رحم پري کوه او لاس یي ونیسه او لاره ورته وښایه او هیڅ کوتاهي مکوه د هغې په خدمت کي

۱۲۹- کله که په یوه قضیه کي د مور خبره ستا د خبري نه مخالفه وي نو ضد ورسره مکوه.او کوم نظر چې د مور دي په همدي فیصله وکړه اګر که خطا وي فقط چې مخالف د شریعت نه وي .

۱۳۰- کله که مور علاقه ددي سره ساتي چې اخبارونه او مجلي مطالعه کړي. او ددي سره یي علاقه وي نو اخبارونه ورته هم راوړه چې مطالعه یي کړي.

۱۳۱- هروخت خپلې مور ته د ضرورت وړ شیان راوړه او دومره صبر مه کوه چې مور تاته ووائي چې دا شیان راته راوړه.

۱۳۲- کله چې مور ته څه شي راوړي نو بیا د مور نه د هغې عوض او قیمت مه غواړه.

۱۳۳- کله چي ستا مور په دي قادره شي چي د بانک نه روپۍ راواخلي نو دهغي لپاره په بانک کي روپۍ ذخيره کوه چه د خپلو ضروریاتو برابر يي راواخلي.

۱۳٤- کله که ته د مور په حق کې خطا شي نو عذر ورځخه وغواړه هغه ستا عذر قبلوي.

۱۳۵- کله که د مور عمر ډير شي نو هغي ته داسي القاب مه وايه چه هغه پري خفه شي يعني چي ته بوډۍ يي نوره ختمه يي داسې الفاظ ورته مه وايه .

۱۳٦- کله مور په کور کې داسي کړني کوي چه پلار يي ښه نه ګڼي نو ته ورته سمدستي نصيحت مه شروع کوه. بلکي په داسي طريقه ورسره خبري وکړه چه د مور زړه زخمي نکړي .

۱۳۷- هميشه په نوو چارو کې سوچ کوه چي زه په کوم ترتيب سره خپله مور راضي کړم.نوې فکرونه کوه او د هغي دښه تطبيق سوچ کوه.

۱۳۸- هميشه يوقسم د نيکۍ باندي اکتفاء مه کوه . بلکي په مختلفو شکلونو کي ورسره نيکياني وکړه. او په روزانه ژوند کي د هغې د خوشحالۍ موافق چلند وکړه .

۱۳۹- د مور فکرونه او کارونه که هر څومره تاته کمزوري ښکاري خو بیا هم هغه کوچنی مه ګڼه بلکې عام د یو مصلحت رویه ورسره کوه.

۱٤۰- کله چې خبرې کوي نو دهغې خبرې په منځ کې مه قطع کوه او د هغې د خبرو په منځ کې چغې مه وهه. بلکې پوره ورته متوجې شه او خبرو ته یې غوږ کیږده.

۱٤۱- ته همیشه هغه احادیث مطالعه کوه چې په هغې کې د مور سره د نیکۍ کولو فضائل بیان شوي وي. ددې سره به الله تعالی تاته اوچت همت درکړي.

۱٤۲- کله چې ته یو څوک وګورې چې خپلې مور ته تکلیف ورکوي . نو ته دا دعاء ووایه :

الحمد لله الذي عافاني مما ابتلاه به .ددې سره به الله تعالی تاته دا توفیق نه درکوي چې خپلې مور ته ضرر ورسوې.

۱٤۳- په مجلس کې مور ته شا مه راړوه او لرې ورځخه مه کېنه بدې حرص کوه چه نزدې ورته کېنې . او تادې کوه د هغې په خدمت باندې.

۱٤٤- کله چې مور د تللو اراده لرې نو بوټان یا څپلۍ یې راواخله او مخې ته یې ورته کیږده . او لاس نه یې ونیسه .

۱٤٥- داسي مه جوړېږه چي د مور په حالاتو آخري ته ځان خبروي . یا په ځینو خوشحالیو کي اخري مبارکي ورته ته ورکوي، یا ورته اخري تسلي ته ورکوي په دردونو او غمونو کې، بلکي په هر څه کي مخکي والي کوه.

۱٤٦- کله مور تاته سختي خبري کوي یا د ر باندي غوصه وکړي سمدستي مور ته ځواب مه ورکوه . او یو مناسب فرصت پیدا کړه مور ته دي قناعت ورکړه. او که نه ملامته وي نو ببننه تري وغواړه او عذر تري وغواړه او عفوه تري طلب کړه.

۱٤٧- ځیني مورګاني په طبعي لحاظ سره ډیره غوصه کوي نو ته ورسره صبر کوه او ددي ټولو حالاتو باندي برداشت کوه او د الله تعالی نه عفوه طلب کوه . او الله تعالی نه وغواړه چي ستا دا صبر په میزان د حسنانو کي د ستر عوض والا شي .

۱٤٨- دمور ښه خویونه د ځان سره په یوه پاڼه کي ولیکه او بیا ددي لپاره لاري چاري وکوره چي څرنګه ته د مور سره نیکي کولای شي .

۱٤٩- سوچ وکړه او خپل چاپېر بال ته نظر وکړه چي ډېریا خلکو خپلي مورګاني له لاسه ورکړي دي او د هغوي د نیکو د زیاتیدلو ستره وسیله ختمه شوده او ستا مخي ته لا

دروازه خلاصه ده . او یو غټ فرصت دي. خپلي نیکیاني ډیري کړه او زیات خدمت یي وکړه.

**(ژباړن)** : که د چا مور مړه وي نو پکار ده د مور په ځای تړوله توجو د مور خور ته وشي او مشهور روایت دي (الخالة بمنزلة الأم) .

۱۵۰- کله که دي مور مریضه شوه نو سفرونه دي کم کړه او روابط دي هم محدود کړه او مکمل اهتمام وکړه په موجوده مرضتیا د مور باندي.

**قدر منده وروره!**

دا (۱۵۰) فوائد مونږ ولیکل په مختلفو طریقو سره د نیکي کولو د مور سره او کوم چي تاته مناسب ښکاري هماغه تطبیق کړه او عمل پري وکړه.